**بسم الله الرحمن الرحيم**

# په بما انزل الله سره د حکم کولو د بیا اعادې لپاره، یوازې استغفار ویل کفایت نه کوي!

**(ژباړه)**

د عبدالله ابن بسر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**طُوبىَ لِمَنْ وَجَدَ في صَحِيفَتِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيراً**» (رواه ابن ماجه، فی باب الاِسْتِغْفَارِ)

***ژباړه:** مبارکي دي وي د هغه چا لپاره چې د اعمالو په کتاب کې یې استغفار ډېر وموندل شي.*

## د حدیث مفهوم

انسان چې هر څومره ډېر استغفار ووايي او د الله سبحانه وتعالی ذکر پر ځای کړي، په هماغه اندازه الله سبحان وتعالی ته نیږدې کیږي، په دې شرط چې ذکر او استغفار یې پرته له ریا وي او په دنیا کې یې پایله داده چې ټولې د خیر، توفیق، د کار د اسانتیا او برکت دروازې یې پر مخ پرانیستل کیږي. په اخرت کې به یې د اعمالو کتاب له ښو (نیکو) اعمالو او استغفار څخه ډک شي؛ نو په دې ډول د دنیا هېڅ خوند او عیش له استغفار څخه بهتر نه دی؛ نو بیا څرنګه خپل ژوند پرته له استغفار څخه تیروئ؟

## ای مسلمانانو!

استغفار او ذکر له نورو نیکو اعمالو نه دی جلا؛ ځکه چې د انسان ټول اعمال د الله سبحانه وتعالی له ذکر او یاد سره اړیکه لري؛ نو هر عمل چې موږ کوو، پیل یې د الله سبحانه وتعالی په نامه دی او دده په حمد او ثنا سره هغه کار پای ته رسوو. دغه راز دا هغه څه دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته راښودلي دي. همدارنګه استغفار ذکر کڼل کېږي؛ خو هغه څه چې نن د خلکو تر منځ لیدل کېږي، د ذکر او اعمالو تر منځ یې فاصله جوړه کړې ده او ذکر په عمل پوري تړلی نه بولي. داسې مسلمانان شته چې په ګناه کې یې سقوط کړی او ان د یوې عجیبې منظرې (پيښې) شاهد کیږي. د مسلمانانو یو ټولی وینئ چې د مسجد په اول صف کې ناسته وي، څو له لمانځه وروسته د الله سبحانه وتعالی ذکر وکړي، په داسې حال کې چې ددوی تر شا داسې کسان موجود دي چې غواړي کفري قوانین پر دوی حاکم یا پلې کړي، خو هغه کسان چې په ذکر مشغول دي، د داسې ښکاره منکر د تغیر لپاره هېڅ ډول تګلاره نه لري او داسې فکر کوي، چې په بما انزل الله د حکم نه کېدو مسوولیت، په دوامداره ذکر سره ادا کیږي.

## د حدیث شریف خلاصه:

په دې حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ د ذکر او استغفار ویلو ته تشویق کړي یو او دا دوه اعمال دي، چې موږ یې الله سبحانه وتعالی ته نیږدې کړي یو، د هغه په رحمت کې مو شاملوي یا د هغه په رحمت کې یې شامل کړي یو؛ په داسې حال کې چې ځیني خلک ذکر په عمل پوری نه تړي. ډېری خلک شته

چې له لمونځ کولو څخه وروسته په ذکر او استغفار ويلو مصروف شي، خو په دې چې حاکمان دين نه ورباندي پلی کوي، سر نه گرځوي ، نه هم له دې حالت څخه د وتلو او اصلاح لپاره د کومې عملي تګلاې په لټه کې دي.

يا الله! موږ ته د نبوت پر تګلاره راشده خلافت چې د امت وحدت پکې نغښتی وي، را په نصيب کړې او موږ ترې برخمن کړې او له بدمرغيو او ناخوالو څخه مو لرې لرې. يا الله دا ځمکه ستا په کرم سره روښانه وگروځوه. الهم آمين آمين!